PASCHTO

# د بالقوه وړتیا تحلیل او تجزیه

## د والدین لپاره معلومات



GEFÖRDERT VOM

Bundesministerium für Bildung und Forschung

LAND BRANDENBURG
Ministerium für Bildung, Jugend und Sport

## ولې رضایتلیک؟

د بالقوه وړتیا تحلیل او تجزیه پخپله د ښوونځي لخوا نه ترسره کېږي. د همدې لپاره ستاسې د ماشوم نوم، تخلص، ټولګی او ښوونځی باید د همکارۍ شریک ته ورکړل شي. د دې موخې لپاره ستاسې رضایت ضروري دی. دا معلومات د قانوني الزامیت پربنسټ ارزول کېږي او د بالقوه وړتیا د تحلیل او تجزیه څخه لنډه موده وروسته له مینځه وړل کېږي.

## وروسته څه پېښېږي؟

د بالقوه وړتیا تحلیل او تجزیه د شغلي لارښود له لومړي ګامونو څخه دي. د ښوونځي نوع او د ټولګي ګروپ په پام کې نیولو سره د شغل لوري ته نور ګامونه شتون لري.

در www.elternpower-brandenburg.de په براندنبورګ ایالت کې د شغلي لارښود ټولو مرحلو په اړه ګټور معلومات مومئ.

## زما ونډه څه ده؟

په شغلي لارښود کې، تاسې د والدین په حیث د خپلو اولادونو یو له ترټولو مهم اړخ یې. د همدې لپاره د دې موضوع په اړه د خبرو اترو په لټه کې اوسئ.

د تجربو په اړه پوښتنې او پلټنې وکړئ او د راتلونکي ګامونو په اړه وغږیږئ. د مثال په توګه:

**ستاسې د قوت (درې) ترټولو ستر ټکي څه دي؟**

**ستاسې لپاره کومه ونډه ډېره خوندوره وه؟**

**ته غواړې کوم کار تجربه کړې؟**

**کوم معلومات لاهم نلرې؟**

دا پورتال **planet-beruf.de** د والدین لپاره هم ګټورې سپارښتنې وړاندې کوي:

https://planet-beruf.de/eltern-und-erziehungsberechtigte

## د ځواب ویلو مسؤل

د شغلي لارښود او د ښوونځي بالقوه وړتیا د تحلیل او تجزیه اړوند د ټولو پوښتنو لپاره د ځواب ورکولو لومړی مسؤل ستاسې ماشوم دی.

د ښوونځي مهر

## ګټور لنکونه

د کار اژانس (Agentur für Arbeit) هغه والدین ته هم لارښوونې وړاندې کوي کوم چې د شغل او په پوهنتون کې د تحصیل د انتخاب لپاره د خپلو ماشومانو ملتیا کوي.

www.arbeitsagentur.de/bildung/schule/tipps-fuer-eltern

MBJS په خپله اصلي پاڼه کې د براندنبورګ ایالت کې د شغلي لارښود په اړه تکمیلي معلومات وړاندې کوي.

mbjs.brandenburg.de/bildung/uebergang-schule-beruf/berufliche-orientierung.html

د براندنبورګ د بالقوه وړتیا د تحلیل او تجزیه پروژې مرکز ( Projektstelle Potenzial-analyse Brandenburg) د بالقوه وړتیا د تحلیل او تجزیه د همغږۍ او اجرا مسؤل دی.

kobra.net
Beratung.Bildung.Brandenburg

د براندنبورګ د بالقوه وړتیا د تحلیل او تجزیه پروژې مرکز د محدود مسؤلیت شرکت kobra.net (Projektstelle Potenzialanalyse Brandenburg kobra.net GmbH)
www.kobranet.de




نېټه 06.02.2024

## «غواړي په راتلونکي کې څه کاره شي؟»

دا پوښتنه ممکن ټول والدین له خپلو اولادونو کوي. د دې لپاره چې ستاسې ماشوم وکولی شي په ښوونځي کې د زده کړې دورې په پای کې دې پوښتنې ته ځواب ورکړي، د اوم ټولګي څخه په پراخه کچه شغلي لارښود پیل کیږي.

**یو له لومړیو ګامونو څخه د بالقوه وړتیا تحلیل او تجزیه ده.**

## د بالقوه وړتیا تحلیل او تجزیه د څه شي لپاره؟

د بالقوه وړتیا د تحلیل او تجزیه پرمهال ستاسې ماشوم د خپلو قوت ټکو او لیوالتیاو سره ښه اشنا کیږي. دا کار د بریالیتوب تجربې ممکن کوي او فرد ته دا جرآت ورکوي چې خپل راتلونکي ته کتنه وکړي.
خبره د ضعف ټکو پېژندل او د هغوی اصلاح کول ندي. د بالقوه وړتیا د تحلیل او ارزونې په پای کې شغلي توصیه یا د یوه مسلک یا شغل لپاره صلاحیت نه اعلامیږي.

بلکه ستاسې ماشوم باید وهڅول شي چې خپلې لیوالتیاوې وسپړي. هغه باید وکولی شي چې پخپله پرېکړه وکړي چې کوم شغلي لورې کې غواړي ځانته سمون ورکړي ترڅو د بیلګې په توګه د کار مناسب زده کړه انتخاب کړي.



## د بالقوه وړتیا د تحلیل او تجزیه پرمهال څه پېښیږي؟

- بېلابېل دندې په کوچنیو ګروپونو کې او یوازې بشپړیږي.
- پدې ترڅ کې وړتیاوې مشاهده او ارزول کیږي.
- یعني کتل کیږي چې تنکي ځوانان دندې څنګه مخته وړي، کوم نظروه کاروي او په ګروپ یا ډله کې څنګه کار کوي.
- دا د ښوونځي د معلوماتو او پوهې په اړه نه وي.





د شاوخوا دوه اونیو وروسته د ارزونې لپاره د خبرو اترو نیم ساعته ناسته په لاره اچول کیږي. تاسې د والدین په حیث کولی شئ پدې کې ګډون وکړئ. د موضوع بحث به ستاسې د ماشوم تجربو او د هغه لیدل شوي د قوت ټکو باندې متمرکز وي. علاوه لدې، ستاسې ماشوم پدې اړه چې څنګه کولی شي له شغلي پلوه ځانته ښه سمون ورکړي، سپارښتنې ترلاسه کوي.

دا تجربې د قوت ټکو یوه پروفایل کې ثبت کیږي. دا پروفایل ستاسې ماشوم پورې تړاو لري او باید د شغل انتخاب جواز (Berufswahlpass) کې وساتل شي. کیدی شي دا پروفایل د منل کېدو غوښتنو لپاره وکارول شي.

## د یوه تمرین لپاره مثال – شریک کور

تنکي ځوانان باید په یوه شریک کور کې د ژوند کونکي ډلې په حیث یو شریک کور طراحي کړي. پدې تړاو باید د بیلګې په توګه بحث وکړي چې خونې څه ډول وویشل شي او وکارول شي. طراحي باید وارزول شي او کرایه یې باید وویشل شي. د دې موخې لپاره تنکي ځوانان باید په ځانګړي توګه هدف په پام کې ولري او سپارښتنې وړاندې کړي (د مشکل د حل وړتیا)، په منطقي توګه استدلال وکړي (د ارتباط ټینګولو وړتیا) او د نورو نظرونه ومني (د اختلاف د حل وړتیا).




## څه شي ته باید توجه وکړم؟

- د بالقوه وړتیا تحلیل او تجزیه عموماً د ښوونځي څخه دباندې د ملتیا یوه ارخ د روزل شوي ډلې لخوا ترسره کیږي.
- دا کار د دمې وختونو په پام کې نیولو سره شاوخوا شپږ ساعتونه دوام کوي.

تنکي ځوانان د اجرا ځای ته د ملتیا سره ځي.

- یعني دا چې هغه ورځ ممکن زده کړه د نورو ورځو پرتله یوڅه ډېر وخت واخلي. ښوونځی به دقیق وختونه تاسې ته ووایي.

